د افغانستا لپاره د ژنو کانفرانس
د مدني ټولني مقاله

نومبر 2018

افغانستان تر څو لسیزو جګړې او ناوتریخوالی وروسته، په تېرو ۱۷ کلونو کې، پاموړ بدلونونه تجربه کړي دي. په دي موده کې، د افغانستان خلک معارف ته د لاسرسی، روغتیايي خدمتونو او نورو بنسټیزو خدمتونو په برخه کې د پرمختګونو شاهدان وو چې په تېرو لسیزو کې بند او یا کم وو. په داسې حال کې چې دا يوه اوږده لاره ده، په ځانګړې توګه دې ته په کتو چې بحران اوس نوي کال ته ورداخلېږي. د دې ګواښونو سره سره د مدني ټولنې د ډلو او فعالانو شمېر د زیاتوالي په حال کې دی او د دې ټولنو او بنسټونو ډېر یې هڅه کوي څو هغه تشې ډکې کړي چې له خلکو سره د اړیکو او ډېرو ضروري خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د دولت له خوا باقي پاتې دي. په داسې حال کې چې د هېواد د مرکزونو په شمول نويو سیمو ته د جګړې له پراخیدو او د ملکي تلفاتو د ډېرېدو سره، اکثره يادې ډلې د خلکو د اړتیاوو د پوره کېدو په برخه کې له سترو ګواښونو سره مخ دي. په همدې خاطر ډېره مهمه ده چې د افغانستان دولت او نړیواله ټولنه د هېواد د مدني ټولنې غږ ته غوږ کېږدي. د دې بنسټونو ځواکمني د دې لپاره چې په کلیو او ټولنو کې خلکو ته د رسیدو په برخه کې، د هغو ټولنو په شمول چې دولت ورته لاسرسی نه شي لرلی، دوی ته اجازه ورکوي چې د ملیونونو هغو خلکو غږ شي چې په دې هڅه کې دي څو د مخ په زیاتیدونکي ناوتریخوالي او فقر د اغېزو له زغملو، معارف ته یې د ماشومانو د نه لاسرسي، خدمتونو ته د امکاناتو د نه لاسرسي او په سفرونو کې له ستونزو سره د مخ کېدو سره سره، خپل ژوند مخته بیايي.

د ولایتونو د ۳۴ استازو ورسره د ۶۸تنو سره د مشاورو په نتیجه کې چې د ۲۰۱۸ کال د نومبر په یوولسمه په کابل کې راټول شوي وو، د کابل حکومت او نړیوالو شریکانو د توجه جلبولو لپاره څو ساحې په نښه شوي دي.
ځواب ویونکو د هېواد په هره ساحه کې دري موضوعات د غټو ستونزو په توګه چې د خلکو د ژوند په ټولو برخو اغېز لرلی شي مطرح کړل چې هغه په هېواد کې جګړې، پراخ فساد او مخ په زیاتیدو فقر دی. ځواب ویونکي په دې موافق وو چې دا مسایل سره مرتبط دي او پر نورو ټولو ستونزو خارق العاده زیات تاثیرات لري.
ځواب ورکوونکي ټول په دې نظر وو چې باید د روانو جګړو د ختمولو لپاره جدي هڅې او همغږې رامنځته شي. پر دې سربېره هغوی وویل حتی د هېواد د "امن" سیمو اوسیدونکي د اقتصاد د پرېوتو تاثیرات احساسوي چې په ۲۰۱۳ کال کې شروع شو او په نتیجه کې یې د ۲۰۱۴ کال څو میاشتنی انتخاباتي بهیر سخت شو او تر اوسه دوام لري.

د مرکزي سرشمېرنې اداري د رپورټ له مخې، د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو تر منځ په هېواد کې د بېکارۍ سطحه چې په سلو کې ۲۵ وه، په سلو کې ۴۰ ته ورزیاته شوه[1]. د فقر د اغېزمنتیا تر څنګ، افغانان د ژوند په هره برخه کې د پراخ فساد شتون احساسوي. په ۲۰۱۶ کال کې د شفافیت د څار کمیټې تخمین[2] کړی ؤ چې افغانانو د 2.9 ملیونه ډالرو په حدودو کې رشوت ورکړی ؤ. دې ته په پاملرنې سره چې لږ تر لږه په سلو کې ۵۴ افغانان[3] د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي، د هر يو ورکړل شوي رشوت له مواردو څخه اکثره د دې عامل شوي چې خلک نه دي توانيدلي څو خپلې اساسي لوجیستیکي او دیواني چارې ترسره کړي. پر دې سربېره، په دې وروستیو کلونو کې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو د بیې ګرندۍ پرېوتنې[4] شاهدان وو. د رسنیزو رپورټونو له مخې، له ۲۰۱۱ کاله راپه دې خوا، افغانۍ د ډالر پر وړاندې په سلو کې ۴۰ ټیټه شوې ده[5]. سره له دې چې د افغانیو پرېوتل کیدی شي نور بېلابېل عوامل هم ولري لکه ګاونډیو هېوادونو ته د بهرنیو اسعارو قاچاق، خو دې کار پر افغانانو ډېر سخت اغېز وکړ او دوی د اساسي اجناسو په تأمین کې له ډېرو ستونزو سره مخ شول.
پر دې درې مسألو سربېره، هغه استازي چې د هېواد له ۳۴ ولایتونو راغلي وو په بېلابېلو ناستو کې یې اووه نور موضوعات هم د افغانستان د دولت او نړیوالو شریکانو د توجه جلبولو لپاره په ګوته کړل لکه: سوله، امنیت او د جګړې د ملکي قربانیانو خوندیتوب، د خدمتونو وړاندې کول او د مرستو اغېزمنتوب، فساد، د مدني ټولنې د رول

[1] "افزایش میزان بیکاری در افغانستان"، طلوع نیوز، 2016
[2] دیدبان شفافیت افغانستان، سروی ملی فساد 2016 – تصورات و تجربیات افغانها از فساد. https://iwaweb.org/wp-content/uploads/2016/12/NCS__English__for-web.pdf
[3] "بازار های اسعار – پول افغانی" اقتصاد تجاری، 2018 https://tradingeconomics.com/afghanistan/currency
[4] "بازار های اسعار – پول افغانی" اقتصاد تجاری، 2018 https://tradingeconomics.com/afghanistan/currency
[5] "کاهش ارزش پول افغانی: عمدی یا غیر عمدی"

پیاوړتیا او پرمختګ، اجتماعي خوندیتوب – په ځانګړې توګه د ملیونونو معیوبینو او هغو کسانو لپاره چې د جګړې او چاپېریالي افتونو له کبله بې ځایه شوې دي – په معارف کې د ښځو مشارکت.

**1. سوله، امنیت او د جګړې د ملکي قربانیانو خوندیتوب**

په افغانستان کې اوسنۍ جګړې په واقعیت کې د تاوتریخوالي په دایره کې یوه نوې حلقه ده چې دا څو لسیزې د افغانستان خلک له یوې سیاسي بې ثباتۍ څخه یوې بلې همدا ډول بې ثباتۍ ته سوق کوي. سره له دې، په وروستیو کلونو کې، د افغانستان اوسنۍ جګړې پاموړ بدلونونه رامنځته کړې دي. د تېرو څلورو کلونو په اوږدو کې خلک د تنظیمي چتر لاندې د یو نوي مخالف وسله وال حرکت شاهدان وو چې ځانته "اسلامي دولت" وایي او د هېواد په ختیز او شمال سیمو کې یې ریښې کړې دي. د وروستیو ارقامو پر بنسټ[6] چې د عمومي پلټنې له خوا په ځانګړې توګه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوې دي، طالبان همدا اوس د افغانستان د ۳۰۰ ولسوالیو په سلو کې ۴۵ سیمو باندې کنټرول او نفوذ لري. په عین حال کې، د سولې د یوه ګړندي بهیر لپاره تازه هڅې روانې دي چې د وخت د محدودیت په اړه یې دا اندیښنې شتون لري چې ښځې او نورې څنډې ته ټېل وهل شوې ډلې به په مناسب ډول په کې ګډون ونه شي کړای او په نتیجه کې به دا بهیر هم نتیجه ورنه کړي. د مدني ټولنې له استازو سره ترسره شوې مشاورې ښیي چې په هېواد کې د څو سره نښتو عواملو په دلیل "ستره نا امني" شتون لري چې د سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او مذهبي ابعادو لرونکې ده. د شورشیانو د منځه وړلو په خاطر هوایي بریدونه د بې ګناه هېوادوالو د وژنې سبب کېږي چې دا کار د وضعیت د لا خرابوالي سبب کېږي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سازمان د معاونیت هیأت د اکتوبر رپورټ وایي چې د ۲۰۱۸ کال په لومړیو نهو میاشتو کې ملکي تلفات۸۰۵۰ وو(۲۷۸۹ مړه او ۵۲۵۲ ټپیان). دا رقم د تېرکال د سره ورته تېر وخت په پرتله د ملکي وګړو په وژنه کې په سلو کې پنځه زیاتوالی ښیي. اکثره خلک په دې باور دي چې محلي خلک د مذهبي ایډیولوژۍ په دلیل نه بلکې د تېرو بې عدالتیو د غچ اخیستلو په خاطر له شورشیانو سره یو ځای کېږي.

پرلپسې فساد، تل په ولایتونو کې د امنیتي ځواکونو د بریالیتوب له ریښه یې اسبابو څخه دی. هغه هېوادوال چې له ولایتونو راغلي وو دا مسأله یې روښانه او رپوټ کړه چې د ملي اردو غړي په غیر قانوني توګه په ډلو وسلې خرڅوي. په هېواد کې د جرم سطحه لوړه شوې او پر هېواد د کنټرول او څارنې په برخه کې د دولت ځواکمني له ګواښونو سره مخ شوې ده، په ځانګړې توګه په سرحدونو باندې کنټرول، ځکه چې انفجاري مواد په ډېره اسانۍ هېواد ته واردېږي، د مخدره توکیو قاچاق پراخه دی، شورشیان په اسانۍ سره هېواد ته راتلی شي، ځوان زده کوونکي او محصلین د شورشیانو له خوا ګمارل یو څرګند کار شمېرل کېږي. پر دې سربېره په افغانستان کې غیر رسمي ځواکمنې ډلې د قانون پیروي نه کوي چې د امنیتي پېښو د رامنځته کېدو او د جرمونو د سطحې لوړېدو سبب کېږي. حتی کله چې مرتکبین نیول کېږي، له محاکمې پرته راخوشې کېږي.

په هېواد کې د کاري فرصتونو د کمښت په صورت کې، ډېر خلک یوازې د مذهبي ایډیولوژۍ په خاطر نه بلکې د اقتصادي ګټو په خاطر د مخالفینو له ډلو سره یو ځای کېږي. افغانستان د طبیعي منابعو له پلوه غني هېواد دی لکه څنګلونه، په زیاته اندازه مشهورې مېوې، پنبه او ډول ډول معدنونه. دا منابع په ډېره ارزانه بیه د ګاونډیو هېوادونو له خوا اخیستل کېږي او تر بسته بندۍ وروسته د همغه هېواد په نامه په ډېره لوړه بیه خرڅېږي. په همدې خاطر د افغانستان د خلکو اقتصادي اندیښنو ته رسیدنه ډېره مهمه ده ځکه چې دا کار پر امنیت او سوله اغېزناک دی.

**سپارښتنې:**

- **صنعتي سکټور ته باید پراختیا ورکړل شي تر څو د هېواد له طبیعي منابعو په هېواد کې دننه استفاده وشي او د هېواد د اقتصادي ودې سبب شي.**
- نړیواله ټولنه باید د صنعتي سکټور په برخه کې پانګونه وکړي څو هېواد په خپلو پښو ودرېږي او د بهرنیانو په مرسته له اقتصادي تړلتیا خلاص شي. دولت باید د بستو او نورو ګټو په وړاندې کولو سره پانګوال وهڅوي.
- **د ملکي وګړو پر کورونو دې هوایي بریدونه ودرول شي.** د شورشیانو د پېژندنې او هدف نیونې لپاره دې سم میکانیزم جوړ شي.
- **په سرحدونو او ادارو کې دننه لکه پوهنتونونو، ښوونځیو او نورو ورته ځایونو کې دې د دولت د کشف او کنټرول سیستم زیات شي.** د ښار په بېلابېلو نقاطو کې باید د کشف مناسب وسایل ځای پر ځای شي څو د شورشیانو انفجاري مواد او اسلحه په نښه شي.

---

[6] 30 اکتوبر 2018 گزارش بازرس ویژه عمومی برای بازسازی افغانستان.
https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2018-10-30qr.pdf

- **دولت باید په ولایتونو کې د شورشیانو د مسلط کېدو په صورت کې د داخلي بې ځایه شویو لپاره مناسب تدابیر او مرسته برابره کړي.**
- **په نظامي څانګو کې دې د فساد کمولو لپاره د کنټرول او څارنې ځانګړی میکانیزم ترتیب کړي.** نظامي او د اردو ارشد مقامات باید د وړتیا او ځواکمنتیا له مخې انتخاب شي او فاسد افراد باید له یو پوستې نه بل ته تبدیل نه شي. ځوانو استعدادونو ته دې د ودې فرصت ورکړل شي.
- **د جرمونو د کموالي لپاره باید زورواکې ډلې ونیول شي او له قانون سره سمې محاکمه شي.** د قضایي سکټور ودې ته اړتیا لیدل کیږي.
- **د سولې عالي شورا چې له ۲۰۱۰ کال راپه دېخوا شتون لري، باید اصلاح شي او په یوې وړې اداري بدله شي.** د سولې وړه شورا به د دې سبب شي چې د افغانستان خلک به په دې وپوهیږي چې څوک هلته کوم رول لري او څه ډول اغېز کولی شي. پر دې سربېره، څرنګه چې افغانستان پر بهرنیو مرستو ولاړ هېواد دی، نو د دې اداري وړوکوالی به د لګښتونو د کمېدو سبب شي او په نتیجه کې به په محلي سطحه د سولې د هڅو لپاره ډېره بودجه ځانګړې شي.
- نړیواله ټولنه باید د افغانستان ګاونډي هېوادونه چې د امنیتي وضعیت په وخیم کېدو کې سهیم دي او توطئه جوړوي، تنبیه کړي او مسوول یې وګڼي.
- **د کورنیو چارو وزارت د مرکزي قرارګاه او د ولایتونو ملي اردو تر منځ د همغږۍ میکانیزمونو ته باید وده ورکړل شي څو په یو ولایت کې د شورشیانو د حملې پر وخت د کورنیو چارو وزارت هغه ولایت ته پر وخت مرسته ورسوي.**
- **دولت باید ټولو ولایتونو ته په برابره توګه توجه وکړي، په ځانګړې توګه هغه ولایتونه چې اقلیتونه په کې دي او د شورشیانو ډلو له خوا پرې حملې شوي او درانه تلفات وراوښتي دي.**

## 2. د مرستو اغېزمنتیا او د خدمتونو وړاندې کول

څرنګه چې په هېواد کې د ژوند په ټولو اړخونو کې ښکاره ده، نا امني او فساد د خدمتونو په وړاندې کولو او د مرستو په لېږلو اغېزه کړې ده. جګړه پر ولسوالیو سربېره ښاري مرکزونو ته هم غځول شوې ده او د ولایتونو او کابل د مرکزونو د ډلو ګډونوالو د انساني او تخنیکي پانګې د ضایع کېدو او په نتیجه کې د نا امنیو په اړه اندېښنې څرګندې کړې دي. سره له دې چې په تېرو وختونو کې طالبانو او د داعش ژمنو عناصرو پر مرستندویه ډلو او غیر دولتي مؤسساتو د حملو مسؤولیت په غاړه اخیستی، نا امنۍ ډلو ته نه متوجه کیږي یوازې وسله والو مخالفینو ته یې نسبت کیږي. په عین حال کې د ناپېژندل شویو عناصرو له خوا د ورکو شویو کسانو شمېره، حملې او وژنې د زیاتوالي په حال کې دي.
همدا راز د تمویل کمښت هغو ډلو ته کلکه ضربه ورکړې ده چې د حکومت د نه رسیدو په صورت کې اړو خلکو ته د خدمت او مرستې رسونې له لارې هڅې کوي. تر کومه ځایه چې له تمویل سره تړاو لري، واړه او رضاکار بنسټونه په دې دلیل چې د توانایي نه لرل یې د اداري معیارونو سره په تطابق کې دي، پاملرنه ورته نه کیږي.

**سپارښتنې:**

- **د مدني ټولنې غړي د محلي او نړیوالو ډلو تر منځ د مرستو د مساوي وېش غوښتونکې دي.** محلي ډلو ته د مستقیمې همکارۍ برابرول دوه ښکاره ګټې لري. 1) محلي ډلې په مستقیمه او متواتره توګه له ځانګړو اجتماعي ډلو سره په اړیکه کې وي؛ چې دا کار د دې سبب کیږي چې د دې ډلو مشخصو اړتیاوو ته لازمه پاملرنه وشي. 2) په دې دلیل چې دوی په هېواد کې او د مستفید کیدونکو اجتماعاتو په څنګ کې حضور لري، محلي ډلې کولی شي په ډېرکم لګښت فعالیت ترسره کړي.
- **په هغو پروژو کې چې څو شریکان ولري لکه دولت، نړیواله ټولنه او محلي ټولنه، د دې ټولو شریکوالو تر منځ په همغږۍ تاکید کیږي.** دا هڅې د دې سبب کیږي چې د اصراف مخه ونیول شي او مرستې مستقیمې هغو خلکو ته ورسیږي چې اړتیا ورته لري. دا کار همدا راز د اداري چارو لپاره کم وخت نیسي، په ځانګړې توګه که د هڅو د اسانتیا په خاطر د اطلاعاتو بانک یا کوم بل ورته سیسټم د دې درې واړو تر منځه رامځته شي. د دې ډول سیسټمونو په رامنځته کولو سره د هغې اندازې رشوت په ورکړه کې هم کمښت راځي چې مرستندویان یې د کارونو د پرمخ بیولو لپاره ورکوي.
- **حکومت باید د ملي لومړیتوبونو په لیست کې اصلاحات رامنځته کړي او په دې برخه کې د مدني ټولنې سپارښتنې په پام کې ونیسي.** د مثال په توګه، د معارف - محوره ډلو ډېر استازي وایي کله چې بهرنیو

تمویلوونکو ته د مالي مرستي په خاطر ورځي، ورته ویل شوي چي دولت معارف ته د یو ملي لومړیتوب په سترګه نه ګوري، هغه اندازه پیسي چي دې ډلي ته باید ورکړل شي محدودې وي.

- **دولت او نړیوال تمویلوونکي باید له محلي انجوګانو سره کار وکړي څو د ډلو چټر ته وده ورکړي.** د ډلو چټر دې ته وایي چي بېلابېل بنسټونه چي سره ورته مسألو ته کار کوي سره راټول شي او د یو بل څواکمن کولو لپاره ګډ تصمیمونه ونیسي او خپلو کې سره کارونه وویشي. بل وار به، دا کار د اصراف کمولو لپاره بې حده ګټوري هڅي وي.
- **زیات تمرکز باید د عامه خدمتونو وړاندې کولو سکټور د انساني منابعو د کاري وړتیا په جوړولو وشي.** په داسي حال کي چي، د کاري وړتیا جوړول باید یوازې تر یو سکټوره محدود نه کړو څکه چي یوازې صحي سکټور پر څو نورو سکټورونو متکي دی.
- **د عمومي خدمتونو د وړاندې کولو سکټورونو ته دې د څارني او ارزوني یو کمپیوټري سیستم جوړ شي څو شفافیت او حساب ورکول زیات شي او په غټو او وړو برخو کې د اختلاس مخه ونیول شي.**
- **د ملي عمومي خدمتونو یو اداري سیستم دې طرحه شي چي اطلاعات راټول کړي، مراحل طرح او توزیع کړي، څو له دې لارې ځوابونه ښه غني شي، پالیسي او تحقیق هم اصلاح شي.**
- **د مدني ټولني د پاینښت د ودې لپاره دې کار وشي،** تمویلوونکي باید د هسته یي بودجي ملاتړ وکړي، د دې پر ځای چي بودجي د پروژو مطابق مصرف کړي او د پروژو د هر اړخیزو لګښتونو د زیاتوالي سبب شي.
- **د هغو نوښتونو ملاتړ دې وکړي چي د مدني ټولني پر بنسټونو د باور زیاتوالي سبب کیږي.**

*په روغتیایي سکټور کې د مرستو اغیزمنتیا*

د روغتیایي خدمتونو په برخه کي د غټو کمښتونو راپور ورکړل شوی دی لکه: په کلیوالو سیمو کې محلي روغتونونه، په هغو سیمو کې مجرب روغتیایي کارمندان (د ښځینه ناروغانو لپاره د ښځینه ډاکټرانو په شمول) او ممکنه روغتیایي خطرونو ته د خلکو د پاملرني راړوني په خاطر د روغتیایي مسؤلینو له خوا د عامه پوهاوي کمپاینونه. دې ته په کتو چي د افغانستان نفوس په سلو کې ۶۰ بې سواده دی، د عامه پوهاوي زیاتوالی د وقایې وړ ناروغیو او د ذهني معیوبیتونو کلیشه ځیني د مخنیوي او د مضرو دودونو له منځه وړلو کې ستري اغیزې لري. (کلیشه ځینه په هغو ساحو کې لکه مبارزه له دې تصور سره چي د ذهني ناروغیو لرونکي خلک مضر دي یا همدا راز د باکره توب د ازمیښت دود).
روغتیایي زیربناوې باید داسي جوړې شي چي ډیرې ځواب ویونکي وي او د هرې ټولني د عاجلو اړتیاوو سره سم کار وکړي.

**د روغتیایي سکټور لپاره سپارښتني:**

- **په روغتیایي سکټور کې د انساني منابعو د کاري وړتیا په جوړولو ډیر تمرکز کول، په ځانګړې توګه په ولایاتو کې.**
- **د روغتیایي خدمتونو لپاره دې د یو اطلاعاتي بانک (ډیټابیس) سیستم جوړ شي،** تر څو کمښتونه، ډیرې اړتیاوې وپیژندل شي او د روغتیایي بنسټونو د مؤثریت د زیاتوالي په خاطر د هغوی د حساب ورکولو لپاره د څارني مکیانیزمونو اسانتیا رامنځته شي. د داسي بنسټونو له لارې راټول شوي اطلاعات د پالیسیو په تدوین کي هم مرسته کوي څکه په نتیجه کي به پالیسۍ د شواهدو پر بنسټ جوړې شي چي په مستقیمه توګه د روغتیایي بنسټونو او د روغتیا وزارت له خوا راټول شوې وي.

### 3. له فساد سره مبارزه

له بده مرغه چي فساد د ملیونونو افغانانو د ورځني ژوند برخه ګرځېدلي ده او هغه شی دی چي هر افغان یې په ټول هېواد کي تجربه کوي. لږ تر لږه په سلو کي ۵۴ افغانان د فقر تر کرښي لاندې ژوند کوي[7] او دا په دې معنی چي نه یوازې دا چي د ملیونونو افغانانو لپاره یو دروند بار دی بلکي د دې عامل شوی چي د هېواد د رسمي نظام عظیمه برخه تر خپلي شعاع لاندې راولي، د ابتدایي مسألو په شمول لکه تذکره، پاسپورټ یا د ډریورۍ لایسنس، روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی او نور.

**سپارښتني:**

---

[7] "بیشتر از 54 درصد از افغانها زیر خط فقر زندگی می کنند:جامعه" تلویزیون آریانا 2018 https://ariananews.af/over-54-percent-of-afghans-live-under-poverty-line-cso/

- **د لوړپوړو چارواکو د ګومارنې پر مهال باید دولت د مستعدو او مجربو افرادو په تشخیص تمرکز وکړي.** د لوړپوړو چارواکو د ګومارنې په برخه کې د سیاستوالو اوسنی کړنلاره د اتنیکي او سیاسي اړیکو پر بنسټ ده چې نه یوازې د هغو کسانو پر استعداد ستره اغېزه کوي چې په دې موقفونو ګومارل کېږي، بلکې له هغوی څخه یې د ممکنې حساب ورکونې میزان هم محدود کړی دی.
- **دولت باید په وزراتونو او نورو ادارو کې د فساد عناصرو او د غیر مؤثرو افرادو په ګوښه کولو کې له ډله ییزو او سترو منفکیانو ډډه وکړي.** مدني ټولنه په دې باور ده چې دا ډول کار به معکوسه نتیجه ورکړي، ځکه هغه خلک چې په دې ډول ګوښه کوي، له همغې ناتوانۍ او مؤثریت سره په نورو ادارو کې جذبېږي او ستونزه همغسې په خپل ځای پاتې کېږي.
- **دولت باید داسې میکانیزم جوړ کړي چې پر بنسټ یې ارشد مسؤولین د خپلو لاسته راوړنو او ګواښونو شپږ میاشتنی راپور وړاندې کړي.** دا به مرسته وکړي څو مسؤولین او هغه ارګانونه چې دوی یې استازیتوب کوي له نژدې نه وڅارل شي. کیدی شي چې همدا شپږ میاشتني راپورونه د وزارتونو په بېلابېلو سطحو او نورو دولتي ارګانونو کې دود شي او له هغو نه د یوې قوي سیاسي ارادې ځرګندونې په توګه په ټولو سطحو کې له فساد سره د مبارزې لپاره استفاده وکړي. په همدې ترتیب دا ډول راپورونه په ټولو سطحو کې د ټولو دولتي کارمندانو د څارنې او ارزونې لپاره معرفي کیدلی شي.
- **دولت باید د هغو وګړو لپاره چې کمپیوټر او انټرنیټ ته لاسرسی لري د بریښنایي او انټرنیټي سیستم جوړولو هڅې وکړي.** پرموجوده لاسلیکل شویو اسنادو تکیه کول نه یوازې دا چې د اداري چارو د ځنډیدو سبب کېږي، بلکې دا کار همدا راز د ممکنه فساد یا له اسنادو او مدارکو څخه د ناوړه ګټې اخیستو فضا برابروي. په همدې خاطر، د حکومت له خوا د اداري چارو د مخته بیولو لپاره د بریښنایي میکانیزمونو جوړولو هر ډول هڅه یوازې دا نه چې د بهیرونو د ګړندیتوب سبب کېږي، بلکې د فساد او تېروتنو هغه امکانات هم له منځه وړي چې په لاسلیکلیو اسنادو کې نغښتي دي.
- **خلکو ته دې د هغوی د حقونو په برخه کې د اطلاعاتو ورکولو منظمې هڅې ترسره شي.** دا کار د فساد سره د مبارزې په برخه کې حیاتي دی. سره له دې چې هر افغان اداري فساد تجربه کړی دی، د دوی اکثره یې ممکن هغه ونه پېژني چې البته دا په خپله د رشوت او اختلاس د راپور ورکولو په برخه کې یو مهم عامل دی. هر کله چې دولت د حقوقي میکانیزمونو له لارې د فاسدو مسؤولینو څخه ځواب وغواړي، د افغانستان خلک به نه یوازې دا چې ښه پوه شي چې فساد څنګه شکل لري، بلکې د افغانستان په اداره به یې باور هم ډېر شي او په نتیجه کې به هغوی په رسمي بهیر کې ښه پراخ حضور ولري.
- **د قوانینو د تدوین او تصویب په چارو کې او د قانون د حاکمیت لپاره باید دولت د مدني ټولنې له بنسټونو سره مشاورې ته چمتو شي.** دا ځکه چې د مدني ټولنې بنسټونه له ټولنې سره مستقیمې اړیکې او د محلي خلکو میداني تجربه لري او له همدې پلوه، هغوی کولی شي د قوانینو د اغېزمنتیا (یا بې اغېزتوب) په اړه اطلاعات او نظریات په ټول هېواد کې له افغانانو سره شریک کړي.
- **د دې تضمین چې د دولت په ټیټه او متوسطه سطحه د ورکړل شویو معاشونو اندازه په واقعیت ولاړه ده او کیدلی شي چې د دوی ورځنې لګښتونه پوره کړي، چې دا کار البته د فساد د کمښت سبب کېدلی شي.**

### 4. د ښځو ونده اخیستنه

سره له دې چې د نړیوال ائتلاف غړي اکثره وخت په ټولنه کې د ښځو دوباره حضور د ۲۰۰۱ کال د مداخلې له اساسي اسبابو ګڼي، په ملیونونو ښځې د طالبانو تر سقوط وروسته یعنې اوولس کال پس اوس هم د ۹۰یم کال تر دوه لسیزو کورنیو جګړو وروسته اوس هم د اجتماعي ژوند په ډېرو برخو کې فعاله ونده نشي اخیستی.
او دلته هم، یو له هغو اصلي عواملو چې د دې سبب شوی شوي چې ښځې ونشي کړی له خپلو حقونو استفاده وکړي او په سیاسي او اجتماعي ژوند کې رول ولري، همغه پراخ فساد دی چې په تېره یوه نیمه لسیزه کې په هېواد کې خوور شوی دی. سواد او کارموندنې ته له لاسرسي پرته، اکثره ښځې حتی نشي کولی چې د اساسي اداري خدمتونو لپاره لازم رشوتونه ورکړي. حتی هغه ښځې چې سواد لري او شتمنې دي هغه هم پر دولتي موقفونو د تقررۍ په برخه کې له سترو ستونزو سره مخ دي. ځکه هغوی نشي کولی لازمې ټولنیزې شبکې د کار په یوه بازار کې چې د انسان پالنې پر مقررۍ بنا وي رامنځته کړي.
د معارف او زده کړې په برخه کې هم، د ښځو لپاره په کافي اندازه مناسب تحصیلي او تعلیمي بنسټونه نشته. په تېره جنورۍ کې معارف وزارت راپور ورکړ چې په ټول هېواد کې 1000[8] ښوونځي د نا امنۍ له کبله رخصت دي. اکثره

[8] "راه احتیاط، مذاکره با طالبان در مورد تعلیم دختران" قنطره دی 2017.
https://en.qantara.de/content/negotiating-with-the-taliban-for-girls-education-treading-carefully

د نجونو ښوونځي تر نورو ډېر بندېږي. د یونیسف د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ د راپور له مخې لږ تر لږه په سلو کې۶۰ نجونې په ټول هېواد کې نشي کولی ښوونځي ته لاړې شي.[9]
حتی هغو ځایونو کې چې نجوني ښوونځیو ته تللی شي، هلته د (هلکانو د ښوونځیو غوندې) امکانات نشته بلکې ډېر ډېر اندک وي چې مناسبې ودانۍ او مجرب استادان نه لرل هم په دې ستونزه کې شامل دي. د مدني ټولنې استازي په دوو نسبتاً امن ولایتونو پروان او نیمروز کې وایي چې په سلګونو ښوونځي په دې دوو ولایتونو کې د ښځینه ښوونکو د نه شتون له ستونزې سره مخ دي څو نجونو ته تدریس وکړي. همدا راز په نیمروز کې د ځوانو نجونو لپاره د لوړو زده کړو امکانات هم نشته.

**سپارښتنې:**

- **معارف باید د دولت د ملي لومړیتوب په توګه تعیین شي او د ښځو ښوونکو په روزنه باید ډېر تاکید وشي څو ډاډمن شو چې نجوني نورې د معیاري ښوونیزو امکاناتو د نه شتون له کبله له زده کړې او ښوونځي نه لرې کیږي. د سولې په بهیر کې د ښځو او نورو زیانمنو شویو ډلو په ځانګړې توګه د تېرو جګړو قربانیانو او کورنیو ته د ونډې ورکولو لپاره ډېره هڅه.** د مدني ټولنې عوامل د یوې سیاسي حل لارې د مفکورې ملاتړ کوي په دې شرط چې د سولې بهیر په نتیجه کې د تېرو ۱۷ کلونو لاسته راوړنې چې د ډیموکراسی او بشري حقونو په برخه کې دي قرباني نه شي، همدا راز لازمه ده چې مدني ټولنه په دې بهیر کې خپل ځان شامل حس کړي. دا د دې کار د تضمین په معنی دی چې د ښځو هغه حقونه چې په دې تېرو ۱۷ کلونو کې یې ترلاسه کړې دي، یو ځل بیا د یوې سوله ییزې معاملې په نتیجه کې چې ښځې په کې په کافي اندازه استازیتوب نه لري له منځه لاړ شي. همدا راز پر دې تاکید چې سیاسي حل لاره د قربانیانو حقونو ته په نه پاملرنې تمامه نشي. د ولسمشر اشرف غني وروستی غوښتنه چې د سولې په بهیر کې ښځې ورګډول دې یو مثبت اقدام ګڼل کیږي، خو د مدني ټولنې بنسټونو د ملي وحدت حکومت ته وریاده کړه چې د ولسمشر وینا باید د عملي فعالیتونو سره د سلګونو افغانو ښځو د اوریدو د تضمین په خاطر وي.
- **د مدني ټولنې بنسټونه همدا راز له دولته غواړي چې له ښځو سره اړوند قوانین، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د قانون په شمول په سمه توګه تطبیق کړي.** هر څو که د دې قوانینو تدوین یو مهم کار ګڼل کیږي، خو واقعي اهمیت یې په تطبیق کې دي.
- **د افغانستان لپاره د بروکسل په کنفرانس کې، دولت وعده وکړه چې د ۲۰۱۸ تر پایه پورې په ټولو ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي یوه ځانګړې محکمه جوړوي، خو تر اوسه یوازې د هېواد په ۱۸ ولایتونو کې دا کار ترسره شوی دی.** د دې کار د تضمین لپاره چې ښځې او د هېواد وګړي په هر ولایت کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون ته لاسرسی ولري لازمه ده چې دا تشکیلات اصلاح شي.

## 5. انتخابات

د اکتوبر په ۲۰ نیټه تر ۴ ملیونو[10] زیاتو افغانانو چې په سلو کې ۳۳ په کې ښځې وې[11] ، د طالبانو د حملو په مقابل کې چې د رای اچونې په مرکزونو یې کولې ودرېدل او د هېواد د پارلمان اووه لسمې[12] دورې ته یې رایه ورکړه. د دې ټولې لیوالتیا او پراخ ګډون سره سره بیا هم د دوو تېرو انتخاباتو په جریان کې د فساد د تورونو له کبله چې هغه د دولت د مداخلې یا کمزورې څارنې له کبله رامنځته شوه، له سترې لوجیستیکي ناکامۍ سره مخ شول او په نتیجه کې خلک په ساعتونو د رای اچونې د پاتو د ورکیدو، د رای صندوقونو د ورکیدو، د بایو میتریک بېکاره وسایلو (د ګوتو د ثبت وسایل چې د لومړي[13] ځل لپاره د هېواد په ټاکنو کې استفاده شول) له

---

[9] "تا 60 درصد از دختران افغانستان از مکتب محروم اند". الجزیره 2018
https://www.aljazeera.com/news/2018/06/60-percent-afghan-girls-school-report-180603150117803.html

[10] چهار ملیون افغان، با وصف خطر خشونت و مشکلات تخنیکی رأی دادند. اخبار سی ان ان، 2018.
https://edition.cnn.com/2018/10/20/asia/afghanistan-elections-intl/index.html

[11] رأی دهی در انتخابات تاریخی پارلمانی افغانستان پایان یافت. آژانس انودولو، 2018.
https://www.aa.com.tr/en/asia-pacific/voting-for-landmark-afghan-parliament-polls-concludes/1288710

[12] معمای انتخابات افغانستان (16) حقوق بنیادی در مورد انتخابات پارلمانی. شبکه تحلیلگران افغان 2018.
https://www.afghanistan-analysts.org/afghanistan-election-conundrum-16-basic-facts-about-the-parliamentary-elections/

[13] معمای انتخابات افغانستان (21): بررسی انگشت نگاری ممکن است مشکلات جدید پدید آورد. شبکه تحلیلگران افغان، 2018.
https://www.afghanistan-analysts.org/afghanistan-elections-conundrum-21-biometric-testing-likely-to-spawn-host-of-new-problems/

کبله په صفونو کې ولاړ وو او حتی د رأی اچونې د مرکزونو دروازې په دې خاطر بندې پاتې شوې چې د ټاکنو کارمندان حاضر نه وو. پر انتخاباتو د څارنې بنسټونو وموندله چې په ۲۱ ولایتونو کې د کابل په شمول د رأی اچونې لږ تر لږه ۵۲۱ مرکزونه اصلاً د ټاکنو په ورځ خلاص نه شول. هغه مرکزونه چې د اکتوبر په ۲۰مه نیټه پرانیستل شول لږ تر لږه په سلو کې ۶۸ یې له خپل ټاکلي وخت وروسته پرانیستل شول.
د تخنیکي مسألو او د انتخاباتي کارمندانو د نه شتون په نتیجه کې، په هغو مرکزونو کې چې د بېلابېلو دلایلو له کبله یې فعالیت نه ؤ کړی او یا نه وو پرانیستل شوي په ورپسې ورځ په کې انتخابات ترسره شول[14]. پر ټاکنو د څار بنسټونو وویل چې دا ۲۴ساعته تمدید په واقعیت کې د انتخاباتو د قانون د ۱۰۴ مادې خلاف دی. د دې وېره وه چې دویمې ورځې ته د ټاکنو غځېدل د ۲۰ او ۲۱ اکتوبر تر منځ شپه کې به د تقلب فرصت رامنځته شي.
په نتیجه کې دا ټول خلک په دې باور شول چې هغوی د هېواد د اتباعو په توګه خپله دنده ترسره کړې وه او د بالقوه امنیتي ګواښونو سره سره یې دا کار ترسره کړ ولې دولت ونه شو کړی چې د دوی دې لیوالتیا ته مناسب ځواب ووایي او ویې نه شو کړی چې د انتخاباتو د مسألې د اصلاح په خاطر د ملي وحدت د حکومت تر درې کلن کشمکش وروسته یې هم د دې پروسې سمه څارنه ونه شوه کړی. وروستي انتخابات په هېواد کې د انتخاباتو د مناسبې اصلاح د مبرمې اړتیا یوه بله بېلګه ده.
د انتخاباتو په بهیر د خلکو د باور د بیا ترلاسه کولو لپاره، دولت او نړیوال شریکان باید د انتخاباتو د بهیر په برخه کې ګڼ تغیرات راوړي او دا تغیرات باید ټول بهیر له لومړي اعلانه تر وروستي اعلان پورې بریالي لوري ټول په بر کې ونیسي.

**سپارښتنې:**

- **دولت باید بالاخره د الکترونیکي تذکرو پراخ صدور او توزیع پیل کړي، چې په خپله د فساد د کمیدو سبب کېدلی شي.** دا میتود به هغه خطرونه له منځه یوسي چې د رأی اچوونکو د نوم لیکنې څخه سرچینه اخلي، د اوسني موجود سیستم پر بنسټ، د دې خطرونو په له منځه تلو کې د تذکرې پر شا د ستیکر سرېښتول هم شامل دي چې د مخالفینو تر ولقې لاندې سیمو کې د تګ راتګ پر مهال له خطرونو سره مخامخ کېږي. د الکترونیکي تذکرې سیستم به دا مرسته وکړي چې د رأی اچوونکو متناسب لیست به جوړ شي. د الکترونیکي تذکرې سره د رأی اچوونکو د یو مناسب لیست په صورت کې د انتخاباتو کارمندان په هره ولسوالي کې د رأی اچوونکو دقیق شمېر تشخیصولی شي، همدا راز تضمینولی شي چې هر فرد د هغه د ګوتې تر ثبت وروسته یوازې یو وار رأیه ورکولی شي.
- **په ولایتونو کې دې د انتخاباتو د خپلواک کمسیون نماینده ګی زیاتې شي.** دا کار به په کلیوالو سیمو کې د رأی اچوونکو د هڅونې سبب شي چې له دې پرته به د انتخاباتو له بهیره د باندې او یا بې خبره پاتې شي. همدا راز د ولایتونو په سطحه د انتخاباتو د خپلواک کمسیون ستر حضور به د دې تضمینوونکی وي چې د انتخاباتو ټول بهیرونه په مناسب شکل ترسره کېږي او محلي ملیشه، زورواکان او جنګسالاران به ونشي کولی چې په دې بهیر کې لاسوهنه وکړي.
- **د انتخاباتو په بهیر کې د ښځو د حضور زیاتوالی.** اوسمهال رأی ورکول یوازې یو سیاسي اشتراک دی چې په هغه کې ښځې ډېرې فعالې دي او له نارینه وو سره برابرې دي، یعنې هر فرد بې له دې چې جنسیت یې په نظر کې ونیول شي، یوازې یوه رأیه لري. په همدې خاطر ډېره مهمه ده چې په انتخاباتو کې د ښځو حضور باید هم مهاله خوندي او تقویه شي. دا همدا راز یوه بله برخه ده چې په هغې کې په ولایتونو کې د انتخاباتو د خپلواک کمسیون نماینده ګی زیاتول مهم دي ځکه چې دا به د دې سبب شي چې ښځې به د خپلې رأی د حق په اړه ډېر پوهاوی ومومي.
- **دولت باید د قومیت پر بنسټ سیاست ختمولو هر ډول هڅې وکړي.** هغوی باید ډاډمن کړي چې د دولت هېڅ کارمند د ازادو او عادلانه ټاکنو په بهیر کې لاسوهنه نه کوي. د ولسمشرۍ په دوو پرلپسې ټاکنوکې د دولتي لاسوهنې او تقلب تر تورونو وروسته، کاملاً ضروري ده چې حکومت د خلکو د باور د بیا ترلاسه کولو لپاره کار وکړي او تضمین ورکړي چې هېڅ کارمند به، په هېڅ سطحه، په ډموکراتیک بهیر کې لاسوهنه ونشي کړی.
- **دولت باید ژمنه وکړي چې بالاخره به په غزني ولایت کې انتخابات ترسره کوي.** په نوموړي ولایت کې د امنیتي او لوجیستیکي دلایلو له امله د اکتوبر په ۲۰ نیټه انتخابات ترسره نه شول (په کندهار ولایت کې یوه

---

[14] انتخابات افغانستان بدلیل هرج و مرج در مراکز انتخابات به روز یکشنبه ادامه یافت. رویترز 2018.
https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-election-extend/afghanistan-extends-election-to-sunday-due-to-chaos-at-polling-stations-idUSKCN1MU09A

اوونۍ وروسته انتخابات ترسره شول). د دې ګواښ لپاره باید حل لاره پیدا شي څو د غزني اوسیدونکي ډاډمن شي چې غړ یې د خپلو استازو له خوا "د ملت کور" ته رسېږي.

- **د ولسوالی او ولایتي شورا لپاره هم باید انتخابات ترسره شي،** د دې لپاره چې خلک د ټولني په هره سطحه کې خپل استازي انتخاب کړي او په نتیجه کې په ټولو بېلابېلو اجتماعي سطحو کې له سیاسي استازیتوبه برخمن شي.

### 6. د معلولیت او کورني بې ځایه توبه ټولنیز خوندیتوب

اوسمهال په افغانستان کې د معلولیت لرونکو افرادو ارقام د ۷۰۰ زره[15] او ۸۰۰ زره[16] تر منځ دي چې په دې منځ کې لږ تر لږه ۴۰۰ زره[17] تنه د نابینایۍ معلولیت لري.
فعالین او څېړونکي وایي چې واقعي تعداد ممکن تر دې هم ډېر لوړ وي. ځکه چې په هېواد کې د کشمکش له کبله اکثره معلولیتونه اوس هم رامنځته کېږي، د ملګرو ملتونو سازمان وروستي ارقام ښيي چې لږ تر لږه ۵۲۵۲ کسان د ۲۰۱۸ کال د لومړیو نهو میاشتو په جریان کې ټپیان شوي دي.[18] دې ارقامو فعالان په دې مجبور کړي چې فعلي تخمینونه په افغانستان کې د معلولو افرادو د وضعیت صحیح تصویر نه ښيي.
د ورځ تر بلې زیاتېدونکي نا امنۍ او تباه کوونکي وچکالۍ مجموعي د هېواد په ۲۰ ولایتوو اغېز کړی دی[19] چې دا کار د داخلي بېځایه شویو د زیاتېدو سبب شوی دی. د ملګرو ملتونو په حواله په ټول افغانستان کې چې د لانینا وضعیت په دلیل ریپورټ شوی دی باران په سلو کې ۷۰ کم شوی دی.[20] په نتیجه کې د سږني کال اصلي حال به د تېرو پنځو پرلپسې کلونو تر اوسط حده کم وي. لږ تر لږه ۶۰ زره کسان[21] د هېواد په غربي ولایت هرات او بادغیس کې د وچکالۍ له کبله بې ځایه شوي دي.
اوسمهال د افغانستان تر 3.5 ملیونه زیات خلک بې ځایه شوي دي چې په دې شمېر کې له بهرنیو هېوادونو راستانه شوي هم شامل دي چې خپلو اصلي ولایتونو او کلیو ته د ورستنېدو وس نه لري.
د دې دوو عواملو په نتیجه کې بېځایه توب د دې سبب شوی چې ملیونونه انسانان مجبور شوي څو په هغو محلو کې ژوند وکړي چې ځایي خلک بې ځایه شویو ته فراریان وایي او د خپلو محلو یا کلیو د منابعو او پیسو ضایع کوونکي یې بولي.
د ځایي او بېځایه شویو تر منځ دا تازه رامنځته شوې بېځاري د وخت په زیاتېدو سره زیاتېدونکي ده چې د بېځایه شویو لپاره د اجتماعي ستونزو او مخالفتونو سبب کېدلی شي چې خپله د جګړې یا طبیعي افاتو په دلیل د خپلو کورونو پرېښودو ته مجبور شوې او د سرپنا په لټه کې دي. دا اختلافات او منازعات په مختلفو شکلونو څرګندېږي لکه د خدمتونو راګرځول، ژبنی تعصب او حتی له کورنیو بېځایه شویو سره تاوتریخوالی. چې دا کار په همدې ترتیب د فقر د سطحې د زیاتوالي سبب کېږي، ځکه چې د دولت او نړیوالو شریکانو له مرستو پرته یوازې محلي اقتصاد د محلي خلکو او ورسره بېځایه شویو اړتیاوې نشي پوره کولی.
د فقر، خصومت، او تاوتریخوالي مجموعه تباه کوونکي عواقب لرلی شي. هغه بېځایه شوي چې له ګاونډیو هېوادونو راستنېږي عموماً د مهاجرت پر مهال له بېلابېلو بې احترامیو سره مخ کېږي او هر وخت چې خپل هېواد ته راستنېږي نو له ورته تعصب سره مخ کېږي. یعني د یو تعصب ځای بل تعصب نیسي.

---

[15] معلولیت در افغانستان، رویکرد ظرفیت محور برای مشاهده چالش های تحقیق و سفارشات پالیسی. جی. اف. ترانی و دیگران، دانشگاه مرکزی لندن، 2005.

[16] اکثر این 800 هزار تن بیسواد و بیکار هستند. خامه پرس. 2013

[17] خدمات چشم افغانستان، سازمان غذایی جهانی، 2018
http://www.emro.who.int/afg/programmes/eye-care.html

[18] گزارش ربع وار در مورد حفاظت شهروندان در کشمکش های نظامی: 1 جنوری تا 30 سپتامبر 2018. هیئت معاونت سازمان ملل در افغانستان 2018.

[19] خشکسالی افغانستان – اپریل 2018. ریلیف ویب 2018
https://reliefweb.int/disaster/dr-2018-000052-afg

[20] خشکسالی بخش های عظیمی از افغانستان را دربر گرفته است. دفتر سازمان ملل برای همآهنگی فعالیت های بشردوستانه، 2018
https://docs.google.com/document/d/19IUcz2SY-OCXt8lwtquGu6iNu7_S7CY9uuzdj3d8ZaM/edit

[21] ملیون ها افغان با خطر بیجا شدن بدلیل خشکسالی مواجه هستند. شورای مهاجرین ناروژی، 2018.
https://www.nrc.no/news/2018/september/millions-of-afghans-face-risks-of-drought-related-displacement/

د داسي ولايتونو استازو ويلي چې د بېځايه شويو او معلولينو مستندې قضيې لري چې د شتو ستونزو په مقابل کې يې د نهيلی په دليل ځانوژنه کړې ده. بل خطر چې شتون لري دا دی چې له ټولني او اقتصادي فرصتونو څنډې ته د ټېل وهل کېدو په دليل به دغه کسان د طالبانو د ډلو له خوا استخدام شي او د دوی له نهيلی او د ځايي خلکو او دولت د نه منلو په صورت کې به د دوی له احساساتو استفاده وشي او دې ډول حرکتونو کې به د ګډون لپاره وهڅول شي. په تېرو کې هم طالبان په افغانستان کې د انتحاري حملو لپاره له معلولو افرادو په استفاده کولو متهم دي.

**سپارښتنې:**

- **د افغانستان د معلول نفوس مناسبه او جامع سروې دې وشي.** دا ارقام بايد د معلوليتونو په "حسي" او "جسمي" برخو ووېشل شي. د دې کار ترسره کول به د دولت او مدني ټولني له بنسټونو سره مرسته وکړي چې خپل پروګرامونه د معلولو افرادو له اړتياوو سره سم طرحه کړي. داسي يوه سروې به د معلولو افرادو ستونزو ته د رسيدو لپاره د اغېزمنو پروګرامونو د تطبيق په لاره کې لومړی اقدام وي. په هر صورت، د دې کار ترسره کېدل بايد معلولو افرادو ته د خدمتونو ترسره کېدلو د شاته پاتې کېدو سبب نشي.
- **دولت بايد د مدني ټولني له بنسټونو سره په همغږۍ د اجتماعي خونديتوب لپاره اوږدمهاله او عملي پروګرامونه تدوين کړي، همدا راز بايد د معيشت پراخوالي لپاره هم مناسب پروګرامونه جوړ کړي چې ډېره موده ورته پاملرنه نه ده شوې.**
- **د بشري حقونو فضا د ووړوالي په حال کې ده چې دې کې يوازې زيانمني شوې ډلې نه دي شاملې. ټول سهمداران بايد د مدني ټولني ملاتړ وکړي چې په دې برخه کې د مباحثو په زياتوالي کې خپل رول ادا کړي.**
- **د بشري حقونو مسايل اوس هم د اندېښنې وړ غټه موضوع ده او د ناوړه امنيتي وضعيت په پام کې نيولو سره بايد د بشري حقونو د مدافعينو ملاتړ وشي.**
- **نړيواله ټولنه بايد دې مسألې ته لازمه پاملرنه وکړي. د نړيوالي ټولني اوسنی ډېره پاملرنه امنيتي مسألې ته اوښتې ده خو دا په دې معنی نه ده چې د بشر حقونه دې د هغوی د اجندا په پای کې ځای ولري.**

## 7. د مدني ټولني پياوړتيا او پراختيا

د خلکو او دولت تر منځ د پل په توګه يوه پياوړې او فعاله مدني ټوله د ديموکراسۍ په پراختيا کې مهم رول لوبولی شي. په تېرو ۱۷ کلونو کې په افغانستان کې مدني ټولني په غير عادي سرعت سره وده کړې ده. اوسمهال تر لس زرو زياتې اتحاديې، بنسټونه، مؤسسې، محلي شوراګانې او د ځوانانو خوځښتونه د مدني ټولني په نامه کارونه کوي.
د دې کار د تحقق لپاره چې د مدني ټولني بنسټونه شتون لري چې د دولت او خلکو تر منځ د رابط په توګه عمل وکړي او د دواړو خواوو تر منځ شته تشه ډکه کړي.
لومړنۍ او اساسي ستونزه د فساد مسأله ده چې د کابل ولايت د استازو په وينا، د پنځو کلونو په اوږدو کې زياته شوې ده. د اخلاقي مسؤوليت د کمښت تر څنګ، دا مسأله د مدني ټولني د بنسټونو د عملياتي فعاليتونو د سختېدو سبب شوې ده. لکه څنګه چې مخکې ياده شوه، د مدني ټولني بنسټونه احساس کوي چې د دوی زيات وخت په اداري کارونو او د رشوت ورکولو په مسألو او په دولت کې دننه فساد باندې تېرېږي. کيدلی شي چې دا وخت او منابع د ټولنو اړتياوو ته د رسيدو په لاره کې په سمه توګه مصرف شي.
بې شکه چې امنيت د مدني ټولني د بنسټونو لپاره مهمه مسأله ده. په واقعيت کې دا يوه ستره ستونزه ده. امنيتي ګواښونه د افغانستان د مدني ټولني پر وړاندې د طالب او داعش تر فعاليتونو ستر دي، چې هرو دوو ډلو او نورو د مدني ټولني پر بنسټونو، د دوی د دفترونو شاوخوا، د دوی په کارمندانو او پروژو د حملو مسؤوليتونه په غاړه اخيستي دي او په عين حال کې يې په انسان تښتونه، ګواښونه او زورغړونه لاس پورې کړی دی.
يو بل احساس چې شتون لري هغه دا دی چې دولتي مسؤولين د مدني ټولني په چارو کې لاسوهنه کوي چې دا کار د مدني ټولني د رول سره چې يوه مستقله اداره ده، مستقيم په ټکر کې دی. که څه هم مدني ټولنه له ولسمشر غني سره د مدني ټولني د استازو د ملاقات او د سولې په اړه د خبرو اترو کولو هرکلی کوي، دا ډول مشاورې کولی شي چې دولتي تصميمونه اغېزمن کړي، د دې پرځای چې يومعيار وي، يوه استثنا ګڼل کېږي.
په عين حال کې د مدني ټولني بنسټونه وايي چې سره له دې چې دولت د بيان د ازادۍ او اطلاعاتو ته د لاسرسي ژمنه کړې، هغوی اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د دولت د مسؤولينو له خوا له ستونزو سره مخ دي. دا ځکه مهمه ده چې پر دولت د مدني ټولني د څارني او د قوانينو د پلي کولو په برخه کې د دولت د تعهداتو او ژمنو د پلټنې په لاره کې د اطلاعاتو راټولول لومړی قدم دی.
د ملاتړ او تمويل نه شتون د دې سبب کېږي چې د مدني ټولني بنسټونه خپل ځان په يوه تنګه عملي ساحه او د پراختيا او پرمختيا يوه محدوده فضا کې وګوري. په نتيجه کې د مدني ټولني استازي وايي چې د مدني ټولني د رول په برخه کې د عامو خلکو د پوهاوي سطحه هم ټيټه شوې ده.

د مدني ټولنې د بنسټونو د کاري وړتیا د ودې په لاره کې د سترو مختګونو سره سره، اوږده لاره پاتې ده چې څو دا بنسټونه خپلې بشپړې کاري وړتیا ته ورسېږي. له همدې کبله، د مدني ټولنې بنسټونو په ټینګار سره دا سپارښتنه کوله چې دولت او نړیواله ټولنه باید د افغانستان د مدني ټولنې د بنسټونو د کاري وړتیا لوړاوي په برخه کې په رغنده اقداماتو او زیاتې پانګونې لاس پورې کړي.

**سپارښتنې:**

- **د افغانستان د دولت، نړیوالې ټولنې او مدني ټولنې تر منځ ډېره همکاري ضروري ده.**
- **د مدني ټولنې د بنسټونو په داخل کې د باور او حساب ورکولو د میکانیزمونو د ودې پراختیا او ملاتړ ډېر ضرور دی.**
- **د یوې ځواکمنې او باثباته مدني ټولنې د جوړېدو لپاره د ملي لومړیتوب مشخص پروګرام وده.**
- **په افغانستان کې د عمومي، خصوصي او مدني ټولنې د فعال شرکت د ودې د تضمین لپاره د سیسټمونو، میکانیزمونو او پالیسیو وده او ملاتړ.** ( په تېره لسیزه کې د نړیوالو مرستو کمښت) او د دولت او مدني ټولنې تر منځ همغږی ته کتنه.
- **د یو رسمي میکانیزم تضمین رامنځته کول چې تر هغه لاندې د قوانینو د تدوین اړوند مسایلو کې مدني ټولنه دخیله شي او پر دولت د فشار راوړلو ابزارو څخه د مدني ټولنې برخمن کول چې د قوانینو د پلي کېدو په خاطر چې د وګړتوب پر فضا اغېزمنه وي.**